سلطان جان کلیوال

۲۰۲۱/۱۱/۰۵

# د پانـــې خـــور هــیلــه

زما نـوم پانـه دي
ز ددې لويې ونې، د يوې هسکې څانگې لور يمه
زه ډيره ښکلې يمه، دومره ښکلې
چې د خاورينې دنيا لوی واکمنان
زما ليدو ته راځي
هغوي يواځې زما ديدن نه کوی
غواړی ما خپله کاندی
او د هوس تنده په ما ماته کړی.
خو زه د هغه باغ د ونې لورېم
چې د ايمان او له غيرته جوړ باغوان لري
زه د هغه نختر سکه خوريمه
چې يی په څانگو کی بازان اوسي
او، زما د هر دعوه گير
له هوس ډکې سترگې
په فولادي پنجو، له کولکو را باسي.
زه خزانيږم او رژيږم هله
چې می ساتونکی او پالونکی باغوان
په چا پرديو خرڅ شی
چې د چنار او د نختر په څانگو
د باز په ځای تپوسان ځاله وکړی.
نو زما گلانو ورنو
ما د پرديو له لاسو وژغورئ.
نومبر/
۲۰۲۱/۴
تورنتو - کانادا


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ